
٤. د (۱۲– ٥ بڼه) په مینو کې په Shade آپشن باندې کیکاږي او له راخرګندې شوې مینو
خخه خپل د خوښې وړ رنګ وټاکئ.

٥. ټاکل شوی متن سیوری لرونکی کیږي.

که چیرته وغواړو چې خپل د خوښې وړ متن په شا او خوا کربښې را کاږو، لومړی متن ټاکواو له Border & Shading صفحې خخه په Border برخه کې په یوه آپشن باندې کلیک کړئ، د متن پر شاوخوا ټاکل شوې کربښې را چاپیره کیږي. همدارنګه له همدې صفحې خخه کولای شو د یوه سند د صفحې پر شاوخوا کربښې راکاږو. د دې کار د سرته رسولو لپاره په لاندې توګه عمل وکړئ.

۱. لومړی له مینو خخه په Format/Border and Shading آپشن باندې کلیک وکړئ.

۲. د تنظیماتو په صفحه کې په Page Border مینو باندې کلیک وکړئ.




(14–٥ بڼه)

په پورتنې شکل کې ګڼ شمیر آپشنونه شتون لري لکه: د حاشیې د کربښې ډول، د کربښې رنګ او ډبل والي . له نوموړو آپشنونو خخه په ګټه اخیستنې سره کولای شو د حاشیې کربښې وټاکو او تنظیم یې کړو. د کربښې د ډول د ټاکلو لپاره له Style مینو خخه د خپلې خوښې وړ کربښه باندې کلیک وکړي، د همدې آپشن لاندې له Color مینو خخه په ګټه اخیستنې سره کولای شو د پاڼې د شاوخوا کربښې رنګ وټاکو. که چیرته غواړئ د کربښې ډبل والی وټاکی له Width مینو خخه دهغه ډبل والی وټاکئ.



(c) ketabton.com: The Digital Library

